مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۵/۰۸/۱۷

# هارون باچا:
# زما پېژندګلوي او وياړونه له موسيقي سره تړلي دي

مرکه: ولي الله ملکزی
(سټاکټن/ کالېفورنيا)


هارون باچا ولي الله ملکزی

صوابۍ د پېښور شمال ختيځ لوري ته د ۹۸ کيلومترۍ په واټن پرته ولسوالي (ضلع) ده. دا سيمه د ګندهارا د تهذيب، بُدمَت عقيدې، د پير بابا د خسرخيلو او ښکلو هنرونو ټاټوبی دی.
کله چې څوک د دغې سيمې يادونه کوي نو لومړني نوم چې ذهن ته راځي هغه پنج پير دی. له نن څخه ۵۳ کاله وړاندې، يعنې د ۱۹۷۲م کال د جولايي په ۲۷ نېټې په يوې سيدې کورنۍ کې زېږېدلې هنرمند، هارون باچا د همدې کلي دی.
د پښتو موسيقۍ د شهرت په بام ولاړ باچا جي، د آواز او انداز ښتن او سندريز هنر يې له سوز او ساز څخه ډک دی.

هارون باچا اديب، ليکوال او يو تعليم يافته سندرغاړی دی. په ۱۹۹۴م کال کې يې د پېښور له پوهنتون څخه د ټولنيزو چارو په مسلک کې ماستري اخيستې ده. په ۲۰۰۸م کال کې د امنيتي ګواښونو له امله لومړی نيويارک ته لاړ او دا مهال د ټکساس په ايالت کې اوسيږي. په ۲۰۰۹م کې يې په واشنګټن DC کې د مشال له راډيو سره کار پيل کړ؛ درې کاله وروسته پراګ ته وکوچېد او د آزادۍ له راډيو سره د يوهنري پروګرام د چلوونکي په توګه يې دنده پيل کړه چې لاهم روانه ده.
په کالېفورنيا کې افغان کلتوري ټولنې له پيرنګي استعمار څخه د اعليحضرت غازي امان الله خان په مشرۍ د خپلواکۍ د ۱۰۶ کليزې د جشن په خاطر د لويې غونډې تابيا نيولې ده. د زرګونو هيوادوالو ترڅنګ هارون باچا او ګڼ شمير مشهور هنرمندان د سټاکټن ښار ته را رسېدلي دي. ما ورسره د سر پټې سټيډيم د انګړ په خوا کې مرکه وکړه او په پيل کې مې وپوښته چې باچا جي د يو انسان ترټولو غوره استاد د هغه خپل ژوند وي، تا دې له ژوند څخه څه زده کړيدي؟ داسې ځواب يې راکړ:« د عالي تحصيلاتو تر اړخه مې دا زده کړل چې ژوند د زحمت ګاللو، کار کولو او ټولنې ته د خدمت کولو دوهم نوم دی، نو ځکه مې اوږه ورکړېده». د خپلې ترخې او ناخوالې خاطرې په اړه يې راته وويل: « کله چې د اګست ځوارلسم شي نو زه د نيمګړتيا احساس کوم، ځکه زه په دغې ورځې له وطنه جلا شوې يم. زموږ په وطن کې هرڅه شته، خو هلته ژوند نه کيږي».
ژورناليزم ډېر ډولونه او څانګې لري، ته چې د مشال او آزادۍ په راډيوګانو کې د پروګرامونو چلوونکې يې، د موسيقي غږول او کمپوزول درته آسان دي که د خبر جوړول او خپرول؟ « زه خو تصادفي ژورنالست شوم. کله چې مې په واشنګټن کې له راډيو سره کار پيل کړ نو ما ته دنده راکړل شوه چې خبر وليکم او بيا يې ولولم. دغه لړۍ مې شروع کړه بيا مې څه تمرين او درسونه هم ولوستل او خبره دې ځای ته را ورسيده چې خبريال شوم. ژورنالستان په لر او بر وطن کې ښه ډېر دي، خو هنرمندان د ګوتو په شمار دي او هنر ډېره خواري غواړي».
باچا جي کله چې ته ماشوم وې، د خپلې راتلونکې په اړه دې کوم خيالونه او چورتونه په سر کې ګرځېدل؟ « ملکزی صيب، لکه د نورو ميندو پلرونو په شان زما مشرانو هم غوښتل چې زه دې ډاکټر، انجنير او يا وکيل شم، ولی ما کوم ځانګړی تصور نه درلود. البته څه وخت وروسته دا هيله او تلوسه را سره ضرور وه چې که يوه ورځ د پېښور په پوهنتون کې استاد شم».
۳۳ کاله وړاندې چې ستا د شهرت لړۍ پيل شوه، نو هغه د ټپو سره تړلې وه کومه چې د پښتنو يو کلاسيک او ډېر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کلیوال لرغونی ژانر دی؛ خو نن سبا دې غزل ته مخه کړې، د دې څه خاصه وجه ده؟ « نه صیب، زما اولنی نشر شوی آلبوم د غزل وو، بیا د ټپو. موږ ته به دوستانو ویل چې دا مو ډېر ثقیل صنف ته لاس اچولی او عام ولس لنډۍ او ټپې خوښوي. خو دا ټکي به هم ووایم چې زه د مشرانو شاعرانو، زما د کول او حتی د ځوانو نظم لیکونکو موزون او مناسب نظمونه په غور لولم، د هغو له منځه یې انتخابوم، اجازه اخلم او بیا یې کمپوز کوم. ښکاره ده چې دا د شاعرانو لپاره د مشهورتیا ښه فرصت دی».
بیا مې وپوښتنه چې آیا هجرت او کډوالی ستا په هنر او فعالیتونو باندې کوم اغیز کړی؟ ځواب یې دا وو: « ډېر اغیز یې کړیدی؛ له پوهنتون وروسته مې د یوې غیرې دولتې مؤسسې سره کار کولو او هم مې یو هنري ګروپ لرلو. موږ به کانسرتونه ورکول او په ټلویزیوني پروګرامونو کې مو برخه اخیستله. خو په بهر کې زما د خوښې هنري ډله نه لرم او دا یوه لویه تشه ده».
ته په یوې مذهبي کورنی کې پیدا شوی یې، څرنګه دې وکولای شول چې روحانیت او موسیقي په یو لوښي کې ځای او په یوې چیني کې را ونغاړې؟ « لکه تا چې وویل موږ سیدان یو او بله دا چې په پنج پیر کې د مولانا طاهر صیب چې زموږ د کورنی مشر وو، یوه دیني مدرسه هم ده او هلته د قرآنکریم او نورو دیني علومو تدریس کیږي. په دغسې یو ماحول کې به یو ځوان را پورته کیږي او هغه به هنر کوي، طبعا دا زما لپاره یوګواښ او ګران کار وو؛ خو ما تل د خپلې کورنی حیثیت او د مدرسې حرمت په پام کې نیولی دی. څرنګه چې زه د پلار کشر او نازولی زوئ ووم، نو ماما او مشر ورور مې ورته واسطه شول چې هارون په ایډورډ کالج کې دی د موسیقي سره شوق لري او استاذان یې غواړي چې ټلویزیون ته یې بوزي. نو زما د یرې ترهې برعکس، پلار مې اجازه راکړه خو په دې شرط چې د کورنی پسې د چا خوله خلاصه نه شي».
په لکونو او ښایي په میلیونونو خلک ستا خوږ غږ ته غوږ نیسي او بې بریده مشهور یې، دا راته ووایه چې ته شهرت څرنګه تعریفوې او تا له یې څه در کړیدي؟ « عامه معنا خو یې همدا ده چې ته په ځو کسانو کې وپیژندل شې او په خپل چاپیریال کې یو مقام ولرې؛ خو زما شهرت، پیژندګلوي او ویاړونه له موسیقي سره تړلي دي. پښتانه په ما مبین دي، کله چې زه سندره جوړه کړم نو دوئ یې په شوق سره اوري او زما نوې سندرې ته انتظار کوي».
پښتانه موسیقي اوري او دا هنر یې خوښ دی، مګر د نورو په څېر د خپلو سندر غاړو مناسب قدر نه کوي، آیا همداسې نه ده؟ ځواب یې راکړ چې: « زموږ یو ملګری وایي چې ممکن حالات به همدا رنګې وي، خو دا خبره باید تکرار نه کړو. ځکه هغه د دې تصور سره د یو ډول مرستې په توګه تعبیریږي. زه یو هنرمند یم، پښتنو ډېر عزت را کړی او دغه خبره زه د خپل ځان او ځینو سندرغاړو په هکله دروغ ګڼم».
ویل کیږي چې د موسیقي کوم انستیتوت دې جوړ کړیدی؟ « بلکل، ما په استرالیا او همدا شان په وطن کې د ځینو هنرمندو دوستانو سره په ګډه، د PMI / پښتو موزیک انستیتوت بنیاد ایښی او دلته په امریکا کې مې راجستر کړیدی. تاسو پوهیږئ چې په افغانستان کې په موسیقي باندې کلک بندیز دی؛ نو د دې حالت سره د مقابلې لپاره یوڅه کار او څېړنه په کار ده. لکه آنلاین موزیک کورسونه او یا ورته هڅې ترڅو دا هنر تسلسل ومومي او نړیوال باخبره وساتو چې موسیقي زموږ لرغونی میراث او ژوندي ساتل یې ضروري دي. کنه نو دا به یوه لوه ضایعه وي».
وروستی پوښتنه: باچا جي ته د افغانستان د خپلواکی د ۱۰۶ کلیزې په جشن کې برخه اخلې؛ د یو تعلیم یافته هنرمند په صفت دا جشنونه څه ارزښت لري او څومره اغېزمن یې بولې؟ « اهمیت یې ډېر او اغېز یې ژور دی. په وطن کې خو دا رنګه فعالیتونه چورلټ بند دي، نو دا خواره واره افغانان باید داسې میلې او جشنونه جوړ کړي او خپل کلتور وپالي. همدا لامل دی چې له ټکساس څخه ورته راغلی یم او زه ورته په ډېر لوی ارزښت قایل یم. دا ورځ دې ټولو افغانانو ته بختوره وي»
د مرکې په پای کې مې ورته د ( تصوف؛ روحانیت او کربلېچونه) اړوند خپل وروستنی کتاب ډالۍ او په ډېرې خوښې سره یې قبول کړ؛ دا یې هم وویل چې ستا نور چاپ شوي کتابونه هم راکړه.



[د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ](#)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ